نظرمحمد مطمئن ۲۰۱۶/۱۰/۱۷

# د اجرائيه مشر د پام وړ! د سعودي مسافرو ستونزې

له مودې راهيسې د سعودي د افغان مسافرو شکايتونه کيږي، مګر داسي چاره لاهم ونه شوه، چې د هغوی شکايتونو او ستونزو ته دي ځواب ويل شوی وي.

اجرائيه رئيس سعودي عربستان ته سفر لري، هلته به د شاهي حکومت او کورنی له لوړ رتبه مشرانو سره ګوري، دا ډول به افغان سفير او افغان ډيپلوماټان هم ورسره مجلسونه ولري.

په سعودي عربستان کې ډيری داسي افغان مسافر دي چې نږدې دري، څلور او د ځينو پنځه کلونه کيږي چې د پاسپورټونو او اقامو (ويزو) د ستونزو له امله خپل هيواد ته نه شي راتلای، هرځای ته ولاړل، چارواکو ته يې خپل ږغ ورساوو، مګر غم يې نه خوړل کيږي.

داچې سعودي عربستان او ځيني نور خليجي هيوادونه افغانانو ته اقامه (اوږد مهاله ويزه) نه ورکوي، نو افغانان چې په کور دننه له بيکاری سره مخ دي، د پاکستان څخه په جعلي پاکستاني پاسپورټونو سعودي عربستان او ځيني نورو خليجي هيوادونو ته تللي دي.

ستونزه داده چې دا څوکلونه کيږي چې پاکستان سختي شروع کړي، او چې کله هم افغانان له سعودي عربستان او يا هم نورو خليجي هيوادو څخه د پاکستان د لاري راځي، د پاکستان هوايي ډګرونو کې ورڅخه د دوی جعلي شناخت کارډ، پاسپورټ او ټول اسناد اخيستل کيږي، له دي سربيره نغدي پيسي هم ورڅخه وړل کيږي. مجبوراً افغانان په سعودي عربستان او خليجي هيوادو کې د مسافري ورځي او شپې تيروي.

د طالبانود نظام پرمهال د لنډ وخت لپاره سعودي عربستان سره تفاهم وشو، هغه افغانان چې د پاکستاني پاسپورټونو په کارولو سره سعودي ته تللي وو، هغوی ته د افغان سفارت لخوا نوي افغاني پاسپورټونه ورکول کيدل، او سعودي عربستان به هم په افغاني پاسپورټونو ورته پخوانی اقامي نوي کولي. نور به د پاکستان له احتياج څخه خلاص وو.

د کرزي د حکومت پر مهال هم د لنډ وخت لپاره تعامل وشو، مګر هلته سعودي کې مسافر ګيله لري چې د قومي او ژبني ستونزو له کبله دغه پروسه ډيره ژر بنده شوه.

هغه افغان مسافر چې د پاکستان په جعلي پاسپورټونو سعودي ته تللي و، کله چې هم د کرزي په لومړيو وختونو کې د کابل هوايي ډګر د لاري هيواد ته راستنيدل، په پاسپورټونو به يې د افغانستان د دخول ويزه لګول شوی وه، مګر بيا هم دوی ته بلا ستونزي د ژبني او قومي تعصبونو له کبله جوړيدي، او ډيري زياتي پيسي د ترهګرو په نوم ورڅخه اخيستل کيدي.

نږدې يولک داسي افغانان دي چې پاکستاني پاسپورټونه کاروي، د پاکستان سفارت ورته په سعودي کې پاسپورټ تمديد کوي، کله چې له ډيرو هڅو او کوششونو وروسته د افغان سفارت څخه ويزه واخلي او کابل ته راځي، په هوايي ډګر کې له دوه زره څخه تر څلور زره پوري ډالر ورڅخه په بېلابېلو نومونو اخيستل کيږي، د ترهګر په نوم زندان ته په تګ ګواښل کيږي.

دا ډول بله ستونزه د پخوانيو قلمي پاسپورټونو ده، اوس چې نوي کمپيوټري پاسپورټونه اړين دي، او تذکره هم تايد غواړي، په نومونو کې، عمر کې او يا چې لږ هم فرق وي، بيا به مسافر مجبوره وي چې نوي تذکره جوړه او تايد کړي، چې داهم اسانه کار نه دی.

عرب متحده اماراتو کې د پاکستاني پاسپورټونو اړول (بدلول) افغاني پاسپورټونو ته پروسه له ستونزو او مشکلاتو وروسته اوس حل شوی، او افغان مسافر هلته ورڅخه خوښ دي، تر ډيره د دوبی له نوي کونسل څخه خلک راضي ښکاري.

قطر هيواد کې هم پاکستاني پاسپورټونه د قانوني پروسي له تکميل کولو ورسته افغاني پاسپورټونو ته اړول کيږي، اقامه په افغاني پاسپورټ ورته وهل کيږي او ستونزه تر ډيره حل ده.

يواځنی ستونزه په سعودي عربستان کې ده، هغه هم د سعودي عربستان لخوا مشکلات نه دي جوړ شوي، بلکي افغان مسافر ګيله لري چې د افغان حکومت سفارت هلته د افغان مسافرو د ستونزو په حل کولو کې ليوالتيا څکه نه لري، چې کله سفارت ته ورشي، نو د يو پاکستاني په سترګه ورته ګوري.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په خير و لولئ

افغان مسافر ګیله لري چې افغان حکومت ونه شوای کولای چې سعودي عربستان راضي کړي چې افغانانو ته ویزې ورکړي، او دوی هم له مجبوریته د پاکستان پر جعلي پاسپورټونو ویزې اخیستي دي، اوس له حکومت څخه غواړي چې د مسافرو په قانوني کولو او بیرته هیواد ته راستنیدو کې ورسره مرسته وکړي، د نورو خلیجي هیوادو په څیر په سعودي عربستان کې هم د افغانستان سفارت ورته اسانتیاوې ورته برابرې کړي.
ډیری دغه افغان مسافر چې پاکستاني جعلي پاسپورټونه لري او په سعودي کې مزدوري کوي، د یوځانګړي قوم خلک دي، دوی وایي چې کله هم په ریاض کې افغان سفارت ته ورځي هلته ورسره ناسم چلند کیږي، او هیڅ ډول مرسته ورسره نه کیږي، حتی که پر همدې پاکستاني پاسپورت، افغانستان ته د ننوتلو ویزه ورکول شي، هم دوی به ۴ او ۵ کاله له کوره مسافر نه پاتې کیږي، دوی دا ګیله هم لري چې زموږ درې ژبو ورونو سره هغوی چې په پاکستاني جعلي پاسپورټونو سعودي ته تللي همدا د افغانستان ویزې ورکولو اسانتیاوې ورته ورکول کیږي، او د کابل په هوایي ډګر کې هم ورته ستونزې نه جوړیږي.
امید دی چې اجرائیه رئیس عبدالله عبدالله به د افغان مسافرو دغه ستونزه د سعودي عربستان له لوړ پوړو چارواکو سره یاده او د حل او مرستې غوښتنه به ورڅخه وکړي، دا ډول امید دی چې افغان سفارت ته هم لارښوونه وشي چې د ستونزې په حل کولو کې غافل ونه اوسي. او د لنډ مهال لپاره په همهغه پاکستاني پاسپورټونو افغانستان ته د ویزې ورکولو اړوند هم فکر وکړي، په کابل هوایي ډګر کې د افغان مسافرو سره د ناسم چلند او ستونزو مخنیوی هم وشي.
ډیری افغان مسافر د سعودي په زندانو کې پراته دي، چې افغان حکومت یې پوښتنه نه ده کړي، که ډاکټر عبدالله دغه ستونزه هم د سعودي حکومت چارواکو سره یاده کړي.
ښه به داوي چې اجرائیه مشر د افغان مسافرو له ربنتوني استازو سره مجلس ولري او له هغوی څخه په حوصله باندې د مسافرو ستونزې واوري، بیا په ګډه همدا ستونزې د مسافرو د استازو په مخ کې له افغان سفیر سره مطرح کړي.
که خدای مه کړه، اجرائیه مشر عبدالله عبدالله هم سعودي عربستان کې د افغان مسافرو ستونزه جدي ونه ګڼي او په اړه یې بې پرواه پاتې شي، نو د افغان مسافرو ګیله به نوره هم پر ځای او لا زیاته شي، چې رښتیا هم د یو ځانګړي قوم د افغان مسافرو د ستونزو حل کولو کې افغان سفارت او مشران لیوالتیا نه لري.
د ګډ حکومت دواړو مشرانو ته مو وروستی وړاندیز دادی چې په سعودی عربستان کې سفیر او افغان ډیپلوماټان داسې څوک وګماري چې د خپل ولس په ژبه ورسره پوه شي، او خپل خلک پردي ونه ګڼي، دهغوی سپکاوی ونه کړي.
داچې لاهم افغان سفارت ویل کیږي خپله ځانګړې ودانۍ نه لري او دهند سفارت ورته ځای ورکړي، دا هم ستونزه ده، ښه به داوي چې په ریاض کې افغان سفارت خپله ځانګړې ودانۍ کرایه کړي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ